


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، تولنيزه ،علمي ، فرهنگي او نشراتي ارگان ته ښه راغلاست!



# عبدالحفيظ « مليار ـ ساپی »

د نشرنيټه : 8 مى 2022 ميلادی

# موري !

دزره قرار ، دزره غزل ، دزره نغمه يې موري
دزره ملهم ، دزره تسل ، دزره توته يې موري

چې نوم دې اخلمه دزړه ګلان مې وغوړيږي
ځنکه يې ووايم چې خومره ته خوږه يې موري

ستاحوصلې ، ستامحبت ، ستاشفقت يادوم
دژوند ډيوه يې موري ، دژوند رڼا ، دژوند ښکلا

دخپل اولاد ته خير ښيګڼه له پاک رب نه غواړې
په لپه ، لپه لاس دعا په ورځ او شپه يې موري

حفيظ مليار شم سپيلنی ستاله مقامه ځنې
ته برکت يې ته جنت ته مو قبله يې موري
***
عبدالحفيظ « مليار »

بازګشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org